سلطان جان کلیوال
۲۰۱۹/۱۱/۲٤

# ناخوښې

وعده راسره مکړه، انتظار می نه خوښیږی
تراوسه کلیوال یم، ګرانی ښار می نه خوښیږی

ګلونه ټول ښایسته دی، خو خوشبویه نه دی ټول
همدا به وی لامل چی، هرګلزار می نه خوښېږی

دعوه چی د یاری کړی، خو یار نه شی پیژندلی
والله چی رینتیا وایم، داسی یار می نه خوښیږی

ګزار چی مخامخ وی، ورته وایی نارینتوب
ترشا چی په چاوشی، دا ګزار می نه خوښیږی

پیرزو یوه تحفه دی اسمانی، چی رخه وژنی
پیرزو چی په اولاد نه کا، دا پلار می نه خوښیږی

تیاره او رڼا دواړه لری، خپل ځای کی ارزښت
تیاره چی کوم سهاروی، دا سهارمی نه خو ښیږی

كار ښه دی "كليواله"، چې حاصل يې وی خوښي

حاصل چې يې نفرت وی، داسی كارمی نه خوښيږی

نومبر/۲۰۱۹/۱۶

ايجكس ـ تورنتو ـ كانادا

**** **** ****

يادونه:

که چيری گران لوستونکی و غواړی چې د دی شاعر او ليکوال نوری ليکنی او سرودونو هم ولولی، نو كولای سی چې، پر انځور باندی د «کليک» په اجرا كولو سره د ليکونکی مقالی او مطالب د «آرشيف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

نـــاخـــوشـــی

S_klewal_naa_khoshi.pdf